Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ٦

نېټه: ۱۴۰۳/۱۰/٦



د افغانســتان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت نوښت دی چــې د افغانســتان تــر ټولو مهم او وروســتي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېيو ژبو (پښــتو، دري، انګليــسي) چمتــو او خپرېــږي، تاســو کولی شــئ د افغانســتان د وروســتيو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- د شاه و عروس بند ګټې اخيستنې ته سپارل کېږي

۲- د کابل - لوګر دويم لين سړک د لومړۍ برخې د چارو پېل

۳- د ژمي په رارسېدو سره د سون او خوراکي توکو د بيو کنټرول له پاره هڅې

٤- د لوګر ولايت د سيمنټو توليدې کارخونې د ورکړې قرارداد

# د شاه و عروس بند ګټې اخیستنې ته سپارل کېږي



کابل هم د افغانستان د ځينو نورو ولايتونو په څېر د ځښاک او کرنې لپاره د اوبو د کمښت له ستونزې سره مخ دی. د کابل ښار په ځينو سيمو کې د ځمکې لاندې اوبو سطحه ډېره ټيټه شوې ده. همدې ستونزو ته په کتو اسلامي امارت ټوله هڅه کړې چې کابل ولايت کې د کرنې د ودې او کابل ښار کې د ځمکې لاندې اوبو سطحې لوړېدو په موخه د کابل شمال کې جوړېدونکي شاه و عروس بند چارې ژر بشپړې او ګټې اخيستنې ته يې وسپاري.

د ياد بند چارې د تېرې اداري پر مهال پيل شوې وې، خو د ګڼو ستونزو له امله پر وخت دغه بند چارې بشپړې نه شوې. اسلامي امارت چې واک ته ورسېد، نو د کابل ښاريانو د اوبو ستونزو ته په کتو يې د يا بند د جوړونې چارې بيا پيل کړې.

د شاه و عروس بند پروژه له لويو پروژو څخه ده چې د ځمکې لاندې اوبو د تقويې، د کرنې له پاره د اوبو د برابرولو او د ۱,۲ ميګا واټه برېښنا د توليد ظرفيت هم لري.

دغه بند چې د کابل په شکر درې ولسوالۍ کې موقعيت لري، د نهه ميليون متر مکعب اوبو ذخيره کولو او ۲۷۰۰ هکټاره ځمکې خړوبولو وړتيا لري. په نهو ميليون متر مکعب اوبو کې څلور ميليون متر معکب اوبه د کابل ښار اوسېدونکو له پاره د ځښاک د پاکو اوبو په موخه او پاتې پنځه ميليون متر مکعب اوبه به د کرنيزو ځمکو د خړوبولو له پاره وکارول شي. ياد بند د اسلامي امارت له بوديجې څخه تمويلېږي.

اوسمهال د دغه بند په کاسه کې د اوبو ذخيره کول پيل شوي او تمه ده چې په نږدې وخت کې به د اسلامي امارت د لوړپوړو مسووليونو له لورې ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د دغه بند پرانېستل به د سيمې د کرنيز اقتصاد په وده کې د پام وړ رول ولوبوي.

# د کابل - لوګر دويم لين سړک لومړۍ برخې د چارو پیل



کابل چې د پلازمېنې سربېره لوی سوداګريز مارکيټ هم دی، له نورو ولايتونو سره يې نښلول ډېر مهم دي. له ولاياتو سره د سوداګريزو اړيکو د ټينګولو له پاره ټرانسپورتي کرښې (سړکونه) جوړول د اسلامي امارت لومړيتوب دی.

اسلامي امارت ژمنه کړې هغه پروژې به بشپړوي چې چارې يې نيمګړې پاتې دي. همدغسې يوه پروژه د کابل - لوګر دويم لېن سړک دی چې چارې يې نيمګړې پاتې دي او

اوس يې اسلامي امارت د دویم لبن لومړۍ برخه جوړوي. د سړک دغه برخه په کابل ښار کې موقعیت لري چې استملاکي چارې یې مخکې ترسره شوې وې او سړک جوړېدو ته زمینه برابره وه. دغه سړک اووه کیلومتره اوږدوالی او ۶۰ متره سور لري او ټول پرې ۹۲۰ میلیونه افغانی لګښت راغي چې چارې به یې په دوه کلونو کې په معیاري ډول بشپړې شي.

د امارتي مسوولینو په وینا، د یاد سړک لومړۍ برخه له نجات ځلي څخه تر چرخ آب سیمې پورې په دوه اصلي او دوه فرعي لیکو کې جوړېږي چې د یو معیاري سړک ټولې ځانګړتیاوې به ولري.

د کابل - لوګر دویم لبن سړک به نه یوازې د سوداګرۍ وده کې رول ولوبوي، بلکې د کابل او جنوب شرق ولایتونو تر منځ د مسافرو تګ راتګ کې به لا ډېره اسانتیا رامنځته کړي.

# د ژمي په رارسېدو سره
# د سون او خوراکي توکو د بیو کنټرول له پاره هڅې

د افغانستان ځینې ولایتونه سخت ژمی لري او ممکنه نه ده چې د ډېرو سکرو او لرګیو له سوځولو پرته تېر شي. د خونو د ګرمولو له پاره په ډېرو سیمو کې له یادو شویو دوه توکو څخه ډېره استفاده کېږي، ځکه افغانستان کافي برېښنا نه لري.

هر کال په ژمي کې ډېرو سکرو او لرګیو ته د خلکو اړتیا زیاته وي او همدا لامل دی چې د دغو توکو بیې لوړېږي، خو د اسلامي امارت مسوولینو هر وخت هڅه کړې چې هېوادوالو ته په ټیټه بیه دغه توکي برابر کړي. په هېواد کې د زیاتو ډېرو سکرو شتون هغه څه دي چې کولی شي خلک یې د خونو د ګرمولو له پاره وکاروي. په همدې موخه اسلامي امارت د ډېرو سکرو بیې ټیټې کړې دي، څو یې ټولو خلکو ته اخیستل اسانه وي. خو په زیاترو وختونو کې د لرګیو سوځول هم یوه اړتیا وي. سره له دې چې اسلامي امارت د چاپېریال ساتنې په موخه د ځنګلونو په وهلو او له هغه څخه د لرګیو په لېږد بندیز لګولی، خو د اسلامي امارت مسوولینو د هېوادوالو د غوښتنو پر بنسټ د لسو ورځو له پاره دغه بندیز لري کړ، څو اړمنو ولایتونو ته لرګي ورسېږي، د خلکو ستونزې راکمې او د لرګیو بیې راټیټې شي.

دغه راز، هر کال د ژمي په رارسېدو سره په بازارونو کې د خوراکي توکو بیې هم لوړېږي. مګر امارتي مسوولینو په کابل او ولایاتو کې د بیو لوړېدو د مخنیوي له پاره لازم ګامونه اخیستي دي او د بیو د لوړېدو مخه یې تر ډېره نیولې ده. کابل او نورو ښاروالۍ وخت نا وخت د توکو نرخنامې وېشي او له دغو نرخنامو څخه په دوامداره ډول څارنه هم کوي، څو بازار کې پلورونکي له ټاکل شوې نرخنامې سرغړونه و نه کړي.

امارتي مسوولین هڅه کوي چې په بازار کې د سوداګرو له لوري د احتکار مخه هم ونیسي، تر څو خوراکي توکي هېوادوالو ته په بازار کې په کافي اندازه موجود وي او د بیو د لوړېدو لامل نه شي. د مسوولینو د همدې هڅو او دوامداره نظارت په پایله کې اوسمهال د هېواد په ټولو بازارونو کې د خوراکي توکو بیې ټیټې او مناسبې دي چې هرڅوک یې د اخیستلو توان لري.



# د لوګر ولایت د سیمنټو تولیدي کارخونې د ورکړې قرارداد



د روان کال د مرغومي میاشتې په ځلورمه نېټه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په حضور کې د کانونو او پیټرولیم وزارت او د افغان ساکو (افغان – چینایي) شرکت تر منځ د لوګر ولایت د سیمنټو تولیدي کارخونې د جوړېدو قرارداد لاسلیک شو.

امارتي مسوولین وايي چې یاد شرکت به د دغه کارخونې د جوړېدو او په سیمه کې د سیمنټو د اکتشاف او استخراج په موخه شاوخوا ۱٤٥ میلیون ډالر پانګونه کوي. د کانونو او پټرولیم وزیر محترم ملا هدایت الله بدري د قرارداد د لاسلیک پر مهال وویل چې د لوګر د التمور د سیمنټو کارخونه به سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره کړي.

د لوګر ولایت د سیمنټو د تولید دغه کارخونه به په ورځني ډول د ۲۵۰۰ ټنه سیمنټو د تولید وړتیا ولري.

د قراردادي شرکت مشر وو زیدان د قرارداد د لاسلیک پر مهال ژمنه وکړه چې د سیمې د خلکو د هوساینې له پاره به هڅې وکړي او د دوی موخه یوازې د ګټې ترلاسه کول نه دي، بلکې خلکو ته د هوساینې برابرول او قوانینو ته ژمنتیا ده.

دغه ترون د ۳۰ کلونو له پاره له یاد شرکت سره لاسلیک شوی او شرکت به په لومړي پړاو کې د کان د اکتشاف کارونه کوي او وروسته به د کارخونې د جوړولو او سیمنټو د تولید چارې پیلوي.

د لوګر ولایت د سیمنټو د تولیدي کارخونې د چارو پیل د افغانستان د کورني اقتصاد د پیاوړتیا او اقتصادي پرمختګ له پاره یو مهم ګام دی. افغانستان چې تر ځمکې لاندې ډېر نااستخراج شوي معدنونه لري، اوسمهال د اسلامي امارت په مشرۍ له جګړو خلاص افغانستان کې د هېواد تر ځمکې لاندې معدنونو د استخراج له پاره ښه فرصت برابر شوی دی.

له دې وړاندې هم، د افغانستان د اقتصادي پرمختګ په موخه، د سیمنټو او نورو برخو کې له بېلابېلو بهرنیو او کورنیو شرکتونو سره د معدنونو د اکتشاف او استخراج تړونونه لاسلیک شوي دي.

دا د اسلامي امارت له واک ته رسېدو وروسته د سیمنټو د تولید په برخه کې د ځلورمې فابریکې قرارداد دی چې لاسلیکېږي. په ټوله کې د سیمنټو د تولید او استخراج په برخه کې تر اوسه د ٦۲۳ میلیون ډالرو په ارزښت له کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره قراردادونه لاسلیک شوي دي.

